## ورډګ پوهنتون
## د کرنې پوهنځي
## د تأسیس کال: ۱۳۹۳



## لرلید

د کرنې پوهنځی په علمي ډګر کې د هیواد په کچه د کرنې د یوې غښتلې او اکاډمیکې اداري د رامنځته کولو هڅه کوي، ترڅو د کرنې په برخه کې د هیواد د پرمختګ، هوساینې او ښې راتلونکې لپاره با استعداده، مسلکي او په ملي روحیه سنبال کادرونه وروزي.

**پته: وردګو ولایت، توپ دښته، د پولیسو اکاډمي ته څیرمه وردګ**
**د لوړو زده کړو مؤسسه**
**د کرنې پوهنځي**

## د کرنې پوهنځي تاریخچه

وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې د کرنې پوهنځی په ۱۳۹۳ ه ش کال کې چې د ۲۰۱۴ میلادی کال سره سمون خوري د یادې مؤسسې د تأسیس سره سم د دوو څانګو (هارتیکلچر او اګرانومي) په چوکاټ کې په لمړي ځل د دریو تنو استادانو په درلودلو سره په فعالیت پیل وکړ.

د کرنې پوهنځی ټول تشکیل (۱۹) کسانو ته رسیږي چې له دې جملې (۱۳) تنه کادري غړي لري چې د ماسترۍ تر کچې یې لوړې زده کړې کړي دي، ددې تر څنګ څلور تنه اداري کارمندان او دوه تنه خدماتي کارکوونکي پخپل تشکیل کې لري. اوسمهال ددې پوهنځي په پورته ذکر شویو (۲) څانګو کې (۳۴۳) تنه محصلین په زده کړو بوخت دي. دې پوهنځي د ۹ کلن بهیر په دوران کې له دوو څانګو څخه (۵۸۹) تنه محصلین د ټولنې د خدمت په موخه فارغ کړي دي.

د کرنې پوهنځي د کیفیت د ښه والي لپاره تازه متې رانغښتي دي. یادې پوهنځي په خپل اداري چوکاټ کې ۸ داسې کمېټې جوړې کړې دي چې د پوهنځي د کیفیت لوړاوي لپاره په دوامداره توګه کارونه سرته رسوي، چې عبارت دي له: ۱- د کیفیت لوړاوي فرعي کمېټه، ۲- د ستراتیژیک پلان کمېټه، ۳- نصاب کمېټه، ۴- څیړنې کمېټه، ۵- الکترونیکي زده کړو کمېټه ۶- آزموینو کمیټه ، ۷- مالي کمیټه، فرهنګي او نشراتو کمیټه، ۸ـ د نظم او دیسپلین کمېټه. دا کمېټې خپل کارونه په خپل وخت ترسره کوي چې ښه بېلګه یې د ستراتیژیک پلان جوړېدنه ده چې د اړوندې کمېټې له لوري جوړ شوی دی.

## رسالت

د کرنې پوهنځی د مسلکي، اخلاقي او اکاډمیکو معیارونو په رڼا کې د استادانو، محصلینو او کارمندانو لپاره د علمي پوهې د لاسته راوړلو، شریکولو او د علمي چارو لپاره زمینه برابروي.

## موخې

- د عصري او معیاري میتودونو په وسیله د تدریس چارې پر مخ وړل.
- د عصري کرنې د انکشاف، د نباتاتو د تکثیر او اصلاح، د نباتي امراضو او آفاتو په مقابل کې مبارزه، د خاورې ساتنه او اصلاح، د اوبو تنظیم او مدیریت، د حیواني او نباتي محصولاتو اصلاح او مدیریت برخو کې د علمي او مسلکي کادرونو روزل.
- د استادانو او محصلینو پواسطه د څانګو اړوند علمي څېړنو سرته رسول.
- د کرنې او مالدارۍ سکتور اړوند علمي تألیفاتو ، ترجمو، علمي سمینارونو، ورکشاپونو او اړوند مسلکي فعالیتونو سرته رسول.


کمپیوټرلب


کتابتون


درسي خونه


جامع جومات

**Wardak Institute of Higher Education**
**Faculty of Agriculture**



Address: Wardak Province, Dasht Top, Police Academy, Wardak institute of higher Education Faculty of Agriculture

## Mission

In the view of professional, ethical and academic standards, The Faculty of Agriculture, offer a context for the acquisition, sharing and practical work of scientific knowledge for teachers, students and staffs.





## Vision

Faculty of Agriculture is struggling to establish a competitive academic agriculture institution on national level in the scientific field, to train talented, professional and nationally-minded staffs for the development, prosperity and good future of the country.

## Objectives

- Running of teaching affairs based on modern and standard methodology
- Development of modern agriculture, plant propagation and improvement, prevention of plant diseases and pests
- Conservation and improvement of soil and management of water
- Improvement of animal and plant produces and training of academic and professional cadres
- Conducting of department based academic researches by lectures and students